## اعلامیه مطبوعاتی

# د افغانستان د مسلمانانو وینه د سولې په پروسه کې د امتیاز اخیستو وسیله ګرځېدلې ده

د کابل په لوېدیځ کې د یوه واده په مراسمو کې د چاودنې له امله نژدې سل کسان وژل شوي او سلګونه نور ټپيان شوي دي. **د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر** دغه چاودنه په تر ټولو سختو ټکو غندي او له الله سبحانه وتعالی څخه د وژل شوو لپاره جنت الفردوس، د ټپیانو لپاره بشپړه او بیړنۍ شفا او متضررو کورنیو ته د جمیل صبر غوښتنه کوي. هر چا چې دغه وحشیانه عمل ترسره کړی، هېڅ انساني او اسلامي ارزښت ته ژمن نه دي.

د دغه وحشتناک جنایت عامل د سولې په پروسه کې د سیمې او نړۍ د هېوادونو استخباراتي رقابتونه دي چې د دا ډول حیوان صفته بریدونو په واسطه غواړي د افغانستان د سولې له کیک څخه د ځان وژونکو بریدونو او چاودنو له لارې د دغه خاورې د ملکي وګړو د وینو په بیه ډېره برخه ترلاسه کړي. لکه څنګه چې د سولې د پروسې له پیل څخه تر ننه کلي، ښارونه، مسجدونه، مدرسې، مکتبونه، پوهنتونونه، د واده او غم مراسم او نور عامه ځایونه د جګړې پر لومړۍ کرښه بدل شوي دي. په سوله کې ښکېل اړخونه د افغانستان د مسلمانانو وینې تویول په دغه پروسه کې د لازیاتو امتیازونو د ترلاسه کولو وسیله ګڼي.

په داسې حال کې چې په افغانستان کې جګړه او سوله د امریکا او غرب د ګټو لپاره ده. هغوی د خپلو ګټو د تامین لپاره کله د سولې شعار ورکوي او کله هم د جګړې اورونه بلوي. لکه څنګه چې په وروستي ځل جمهور رییس اشرف غني په پوره بې شرمۍ سره امنیتي ځواکونو ته وویل: «نن ستاسو له برکته په واشنګټن او نیویارک کې چاوده نه کیږي. تاسو د نړیوال امنیت مسوولیت لرئ.» حال دا چې په دې اړه واقعیت دا دی چې د افغانستان د مسلمانانو وینه د استخباراتي رقابتونو له لارې د واشنګټن، نیویارک، لندن، پاریس، برلین، بیجنګ، مسکو، ډیلي، تهران او اسلام آباد د ګټو او امنیت لپاره تویېږي. په دې اړه په وارر- وار امریکايي مقاماتو ویلي چې د دوی لومړیتوب په افغانستان کې د امنیت او ثبات ضمانت نه، بلکې خپله د امریکا او د هغې د متحدو هېوادونو ګټې او امنیت دي.

نو دغه وحشتناک سریال هغه وخت پای ته رسېږي چې د استعمار نظامي، فکري، سیاسي، استخباراتي، اقتصادي او فرهنګي جرړې له بېخه له افغانستان څخه راوایستل شي او په هغو سوله ییزو شعارونو و نه غولېږو چې تر شا يې جګړه او ستر استعماري پروګرامونه پټ دي. دقیقاً دغه موخه هغه وخت ترلاسه کېدای شي چې خاین چارواکي له واکه لیرې او کافر یرغلګر د هغوی له ټولو ډلو ټپلو سره یو ځای له دغه خاورې څخه وشړل شي او پر ځای يې د نبوت په طریقه راشده خلافت زموږ د ځپل شوو خلکو پر برخلیک حاکم شي.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**